

**ليکونکی : ایریک مارګولاس( Eric Margolas )**

**منبع اودخپریدو نیټه : کمان ډریم (26-01-2019 )**

**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»**

-----------------------------------------------------------

# ا فغا نستا ن : دامریکا شرمنا که جګړه

## *Afghanistan : America's shameful war*



**په ا فغا نستا ن کې د امريکا هوايي بريد. (عکس: Domenico / Flickr / Cc)**

یومخکینی یا دلرغونی هند یو لمونځ ګذار د لما نځه په دوعا کی داسی دوعاکوله : خدایه ما د پلنګ د منګلو (چنګال) د کفچی ما رله چیچیلو اودا فغا ن له کرکی اوغچ اخیستنی څخه وسا تـي .

متحده ایالات دا دآزادی اوپخپل لاس دبرخه لیک تا کنی قهرما ن همدا ا وس په افغانستان کي دا ستعما ری نا تما م جگړی داتلسم (18) کال په دوام کی دي یعنی دامریکی د یو بی رحم ،کرغیرن اوږد اوشرمناکه جگړه کي کوم چی په دی نامعلومه شخړه کی تر یو تریلیون دالرپه مصرف رسولي اوهیڅ څوک نه پوهیږي چي په دی جکړه کی په څه شمیر بی گناه ا فغا نا ن خپل ژوند دلاسه ورکړی دي.

دا شخړه په کا ل (2001) کی دیو دروغ اودیو پلمی په ویلو او جوړولو سره پیل شو اوهغه داچی یعنی ا فغا نستا ن د ا مریکی د متحده ایالاتو د (۹/۱۱) دبرید مسول او تجاوز کونکی دي حال داچي دځنو کارپوها نو له طرفه دا سی ویل کیږی چی ددی برید پلان په اروپا او امریکا کی نیول شوی وه نه په ا فغا نستا ن کي . دځنو شنونکو په قول سره دغه برید په ظاهره ( رسمی نسخه) کی دامریکی پرضد د سعودی عربستان دافراطیا نو پواسطه سره ترسره شوی اما د دی مقا لی لیکونکی ددی برید د (رسمی نسخی ) په اړه لاتراوسه قا نع شوی نه دی .

مونږ لا تر اوسه نه پوهیږو او هغه داچی آیا په رپښتیا سره **ا سا مه بن لادن** ددی برید (۹/۱۱) یا د دی پیښی محرک او تحریک کونکی وه ؟ کوم چی هغه بی له محاکمی کولو څخه په قتل ورسید ، مړی قصی نه کوی په هر صورت د ملا محمد عمر د ا فغا نستا ن د طالبانو دمشرله خولی څخه په نقل قول ځما یوډیر نژدی په زړه پوری خبر نکا ر ملگری ښاغلی **ارنود دی بربښگروب** (Arnaud de Borchgrove) وویل چی **ا سا مه بن لادن** د سپتمبر د (۹/۱۱) په پیښه کی دخا لت نه لرل اوهغه داچی : چا ددی جگړی څخه گټه تر لاسه کړ ؟ یقیناً چي نه ا فغا نا ن اوداځکه چی دوی دتیرو (۴۰) کالونو راهیسی په جگړه کی دی .

لکه همغسی چي ما پخپل لمړنی چاپ کړل شوی کتاب کی د ا( **د نړی په زړه کی جنگ** ) ترعنوان لاندی لیکلی دي اوما داسی څیړلی چی دافغانستان د پښتا نه اکثریت قبیلی ډیر سخت جنگیا لی او ډیربا تور اوزړه ورخلک وه – د طا لبا نو غورځنگ پخپله یو قومی یا نژادی قومپا ل او اسلامی ډ لی دی چی دکمونیزم ، دمخدره موادو دقاچاقبرانو اودخارجی نفوذ په وړاندی مبارزه کړی دی یعنی چي طا لبا ن د خپل زمامداری په وخت کی دتریاک کرکیلنه ، ترافیک او دراکړی ورکړی روند په بشپړه توگه سره بند او ودرول یعنی چی هغوی د شما لی تلوال تاجکا نو دروسیی تر حما یی لاندی د مخدره موادو قاچاق وړونکو سره تراخره وجنگیده تر هغه پوری چی دامریکی متحده ایالات په کا ل (2001) کی دهمدی تاجکا نوپه همکاری سره پر ا فغا نستا ن باندی برید وکړ اوپه ډیر بیړه ددی تاجکانو سره متحد او لاس یو کړکوم چی دوی لا تراوسه په قوت کی پا تی دی اودامریکی دمتحده

ایالات د حما یی تر چتر لاندی په ا فغا نستا ن کی ژوند کوي.
طالبان یو« تروریستی غورځنګ » نه وه لکه هغسی چی غربی رسنی په درواغو تبلیغ او پروپا ګنډ کوی ،شل کاله دمخه کله چي هغوی دشوروی اشغا لګرو قوتونو په وړاندی مبارزه کوله دامریکی جمهورریس رونالد ریګن دهغوی یعنی د طا لبا نو پلارونه د ( آزادی بخښونکی مبارزین ) په نامه سره نومولی وه . دغه پښتون طا لب جنګیا لی غواړی چی له افغانستان څخه ټول پردی نابللی اشغالګر قوتونه ووځی اودوی ته حق ورکړل شی چی داسلامی قوانینو په رڼا کی خپل چاری سم کړي .
دامریکی متحده ایالات ا فغا نستا ن په نړی کی یو له ډیر بیوزلی ،بیرته پاتی او نادار هیواد مني - اما د بلی خوا څخه همدغه امریکا یا ن دی چی د خپل (B-52) او(B-1) الوتکو په بمبا ری سره ددی هیواد د کلو اودبا ندو په تخریب او بربا دی باندی لاس پوری کړي کوم چی دهغه په څنګ کی دامریکی د بی پیلوته الوتکو په بمب ګذاری سره هره ورځ خلک وژنی ، اودافغان د ګوډاګی اود لاس ناستی رژیم قوتونه اودهغه سره مخکینی تسلیم شوی کمونستا ن په معمول بڼی سره خلک شکنجه کوی اویا په قتل رسوی دا ټول په داسی حال کی دی چی په کابل کی دامریکی د متحده ایالاتو ترلاس لاندی د بلی صا حب ( ګوډاګی رژیم ) په قدرت رسید لی یعنی هغسی یو نوکرصفت رژیم چی د مخد ره مواد و دراکړی ورکړی په اړه اوهم دبشری حقونو د نقض کولو په اړه اوږد لاس لری اوهیح یوکا ر په دی مواردو کی نه دی تر سره کړي .
بی ویلو دی پا تی نشي چی د تریا کو اود مورفینو دراکړی ورکړی لړی اوس دافغا نستان دتجا رت اصلی مخه یا اړخ شمیرل کیږی اوهغه داچی دغه نقدی چمتوکړ شوی محصول بی دکا بل درژیم دچا رواکو اودامریکی د پوځ د مسولینو پرته له اجا زی څخه پا کستا ن ، هند او ایران ته نه صا درکیږي نو کله که چیری ددی جګړی په اصلی علتونو یا دهغه په بشپړ حقیقت با ندی یو څه ولیکل شی نو په پا یله کی دا به را څرګند شی چي امریکا په ډ یر شرمناکه بڼی سره د مخدره موادو دراکړی ورکړی په معا مله او تجارت کی مصروف دی چی دهمدی هد ف له مخی نه غواړی چی دا جګړه ختمه شی اودهغه ګټه په خطر کی ولویږی .
واشنګټن لکه همغسی چی مخکینی شوروی یرغلګرو دافغانستان دویجاړولو دپاره پر دی هیواد باندی تجاوز وکړ هیڅ روښا نه نه دی چی دلته څه غواړي چی وکړی ؟ دامریکی اولسمشر ترامپ اعلام وکړ چی هغه غواړی له افغانستان څخه دموجوده (14000) میشته امریکایی سرتیرو نیمیا یی برخه یعنی (7000) سرتیری ( په شمول د ښځینه او نا رینه چوپړی یا عمله وفعله ) وبا سی اما یوڅه لږ موده وروسته د ترامپ دغه غوښتنه یا

اعلامیه دامریکی د نیوکان (نوی محافظه کا ران ) اود پنتا ګون دجنګ طلبو کړیو له طرفه ویتو شو اوپه عین زمان کی (ځلمی خلیلزاد) دا دنیوکان د ډلو پیژند ل شوی ځیره چی پر عراق با ندی دیرغل مهم لوبغاړی وه د قطر دهیواد په پلازمینه (دوحه) کی دطا لبا نو اودامریکی تر مینځ دسولی دسفیر په صفت په یو لړ نامعلوم او ردوبدل اوبی قاعدی خبرو اترو باندی پیل کړی چی دهغه پایلی لا تر اوسه نه دی معلوم چی څه به را تر لاسه شی .
اما امریکا اوس هم ( **ا تلس کا له** ) وروسته بیاهم افغانستان کی جګړه کوی ؟ چی ددی جګړی ددوام اصلی دلیلونه دادی **: لمړي** : د ا مریکی سیا ستوالو اودهغه هیواد مغرور جنرالانو په هیڅ بڼی سره د خپل ما تی اود زیا ت ما لی لګښتونو مسولیت نه منی حا ل داچی هیڅ شی بی له دی ورک شوی جګړی څخه نور څه نه ترسترګو کیږی **دوم** :
دامریکی لوړ پوړی نظامی امپریالیستی حلقی غواړی چي په افغانستان کی خپل نظا می اډی د چین ،ایران ، پاکستا ن د ګواښلو اود تهد ید کولو د پا ره وسا تي اودبلی خوا څخه ددغه نامعلوم جنګ دوام د یو روان د ګټی ستر معا ملی له خا طره هم دی اوهغه داچی هریوګلن بنزین چی له کراچی څخه دلاریو اود ټرکونونو پواسطه سره کوم چی دهوا یی ګزمی سره په (۲۴) ساعتونو اړیکو کی له کراچي څخه انتقال مومی مسولو کړیو (400) ډالر تر لاسه کوی نودهمد ی دلیل پر بنیا د د نظا می اډی مسولین او هم د پوځ لوړ پوړی چا رواکی نه غواړی چی د دوی دغه معا مله د خنډ سره مخه کړی اویا داچی دغه جګړه ودرول شی .
بله مهم دلیل داچي ولی دامریکی دغه بیهوده جګړه دوام لری یا ځنو غواړی چی دا جګړه دوام وکړی هغه دادی چي دپښتو ن د مسلح قبایلو له تهاجم څخه چی دامریکی لوژیستکی کا روانونه دهغو د سیمی څخه تیریږی پردغه کاروانونو با ندی چپاو رانوړی نو د همدی هد ف د پا ره امریکا یا نو پا کستا نی مقا ما تو ته بډه ورکوی چی د کاروانونو لاری خوندی وسا تي . نو ددی توضیحا تو څخه داسی پا یلی ته رسیږو چی امریکا یی او پا کستا نی د ځارنی مقا ما ت ددی جګړی په دوام سره ډیر ګټی ترلاسه کوی.
نو دهمدی بربنډ دلیل له مخی کوم چی دامریکی زیات پیسی په په افغانستان او پاکستان کی دلوړپوړو بډی اخیستونکو اود ځا رنی ډ لو ټپلو له طرفه حیف و میل کیږی ، د امریکی اولسمشر **دونالد ترامپ** حق لری کوم چی غواړي په ناڅاپی بڼی سره دغه جګړی ته دپای ټکی کیږدی اما د ا مریکی نوی محا فظه کار ډلی ټپلی یا د نیوکا نو پنځم کا لم ( ستون) په احمقانه لاس برد سره وشوکړلی چی د **ترامپ** غوښتنه رد کړی .
نو ددی ټولو یا دونو څخه ددی پا یلی ته رسوو چی که **دونالد ترامپ** غواړی چی دخپل زمامداری تاریخ ته تا ریخی بڼه ورکړی نو لازم بریښی چی د امریکی ټول قوتونه له

افغا نستا ن څخه د(90) ورځوپه موده کی وباسی ، د مخدره موادو دراکړی ورکړی معاملی ته دپای ټکی کیږدی  هند ته  ووایی  چی  دا فغا نستا ن  په  دننه  کی  زیا ت لاس وهنه دی ونکړی اوپه نها یت کی افغا نا نوته فرصت ورکړی چی هغوی  افغا نستا ن بیرته  مخکینی حا لت ته راوړی  یعنی چی د بیطرفی د سیا ست پخپلو کولو سره خپل وطن جوړکړی .

----------------------------------  **په درنا وی**  (29-01-2019)